سرلیکنه

د سولې له خبرو اترو دې اعظمي ګټه پورته شي!

څه د پاسه یو کال شو، چې په هېواد کې د تلپاتې سولې په راوستو او د جګړې پای ته رسیدو په تړاو هلې ځلې او مخامخ خبرې پیل شوې دي، چې بېلګه یې د قطر دوحه ښار یادولای شو، خو د دوحې ناستې هېڅ کومه پایله نه دی ورکړې، دواړه لوري د سولې په وړاندې یو بل باندې تور پورې کوي، چې ګڼې سولې راتګ ته پلانکۍ ډله زړه نه ښه کوي او په وړاندې یې خنډ رامنځته کوي .

د هېواد جګړه بهرنۍ او تپل شوې جګړه ده، چې پکې بهرنې هېوادونه خپلې ګټې ویني، خو زیان یې افغانانو ته اوړي، ځکه په جګړې ښکیلې خواوې دواړه افغانان دي، هر لوري، چې وژل کیږي، غم او ویر یې د افغان ولس په اوږو بار وي .

که هر لوري په هېواد کې د جګړې دربدنه نه غواړي، دا په حقیقت کې د دې خاورې بچیان نه، بلکې د افغانستان دښمنان دي، ځکه دوی خپلې خاورې، خپل ولس او ملي ګټو په وړاندې جنګیږي .

هر هغه څوک چې ملي ګټو او ولس ته ژمن نه دي اوخپل یې نه ګڼي، نو دا څرګنده خبره ده، چې د وطن پر ضد دي، چې دځو پیسو په مقابل کې ناوړې کړنې ترسره کوي او خپلو هېوادوالو سره دښمني پالي .

دکور په دننه او بهر هېواد قطرکې د سولې په وړاندې ډیرې هڅې وشي، چې هېواد کې تلپاتې او ټولشموله سوله راشي، خو بهرنیو اوپه ځانګړې توګه ګاونډ هېوادونو د سولې پر وړاندې خنډونه رامنځته او جګړه یې لاپسې تېزه کړه او په ولسونو کې چې کومې هیلې غوټۍ کړې وې، بېرته یې مړاوې کړې .

اوس هم ستر چانس د افغانانو په لاس کې دی. داسې ښایي، چې د اپریل په میاشت کې دترکیې هېواد استانبول ښار کې دځو نړیوالو هېوادونو داستازو په حضور دافغانستان په روان کړکیچ بحث او دهواری په موخه غونډه جوړه شي. نو ډیره اړتیا شته ، چې دواړه لوري له دغې غونډې نه سمه ګټه واخلي او سولې راوستو ته دې لېوالتیا وښیي،که دغه چانس د دوی له لاسه ووځي، خدای مه کړه، په هېواد کې به لاپسې جګړې زور واخلي .

موږ وینو چې ورځ تر بلې هېواد کې اقتصادي پروژې پلې کیږي او هېواد د ځان بسیاینې په لوري غښتلي ګامونه اخلي، نو څنګه هغه هېوادونه، چې زموږ په څلوېښت کلنې جګړې باج ترلاسه کول، دهغوی له خولې تیاره مړی ووځي او ګټې یې ودریږي .

ټول هېوادوال ددې شاهدان دي، چې په هېواد کې د بنسټیزو او پرمختګیزو پروژو په عمل کې پیاده کول؛ څومره سوز یې ګاونډ هېوادونو کې رامنځته کړل، آن تر دې چې زموږ د ملي پروژو په کارکونکو یې ډزې وکړې، څو تنه یې شهیدان کړل او لاهم ختیځ ولایتونه په توغندیزو بریدونو لاندې راوستي دي ، چې په هېواد کې دسولې په وړاندې دخنډ رامنځته کولو اصلي عاملین همدغه ګاونډهېوادونه دي، چې زموږ په جګړه کې خپلې ګټې ګوري .

خو بیا هم موږ د ښغوری په تغر ناست یو، د هغه چا په ملاتړي یو، چې په لوی لاس مو د هلاکت کندې ته غورځوي، دا څوک دي؟ دا هغه کسان دي، چې د خپل ولس په وینه لوبې کوي، هېواد له ورانی سره مخ کوي او ګټه یې خپلو بادارانو ته رسوي .

ښه خبره یې بولو چې هغه افغانان له دې مخکې یو بل نه مرور او یو بل ته په کمین کې لاس په ماشه ناست ؤ اویا دي، پخپلو منځونو کې پخلاینه او یو بل ته ښښنه وکړي، چې د دښمن له لاسه ورغلې موکې واخیستل او ختمه شي، چې نور له هېواده وژنه، ربړونه او ویجاړونه پای ومومي .

دې موخو ته رسیدل یوازې او یوازې د سولې له خبرو اترو دې سمه او اعظمي ګټنه وشي، دواړه په جنګ ښکېل اړخونه دې یوبل ته انعطاف منونکي واوسي، څو د ولس له اوږو نه د جګړې بار لرې او په هېواد کې سوله ټینګښت پیداکړي .

ولس د جګړو له دواړو خواوو غوښتنه کوي، چې نور دې بهرنیو دښمنانو ته وخت ور نه کړي، چې زموږ په کورنیو چارو کې لاسوهنې وکړي او دسولې پروسه له ځنډ او خنډ سره مخ کړي، بلکې سوله دې وکړي او په سوله کې د خپلو هېوادوالو ګټې تضمین کړي .

که خدای مه کړه داځلې زموږ ملي ناسته مثبته پایله ورنه کړي، دا په یاد ساتئ، چې دښمن به مولاپسې وځپي او بیا به هیڅ څه په لاس نه راځي . خو بهتره ده، چې په ټوله کې دولت او مخالف لور یې دسولې لپاره بې دربغې هلې ځلې وکړي اوله دغه طلایي چانس چې دسولې په موخه مخامخ خبرې پیل شوي سمه ګټنه پورته شي او دواړه لوري دې دمظلوم ولس په خیر هغه پرېکړې ته ورسېږي، چې د ټولو افغانانو په خیر او ګټه وي .

اداره

د لوګر په لوړو زده کړو موسسې کې څلور پوړیزه ودانۍ ګټې اخیستنې ته وسپارل شوه

د وري ۱۱ مه: دغه څلور پوړیزه تدریسي ودانۍ چې دلوړو زده کړو وزارت د پراختیایي بودیجې څخه جوړه شوې ۲۳ میلیونه افغانۍ لګښت پرې راغلی دی.

په هغه غونډه کې چې په همدې مناسب دلوګر په لوړو زده کړو موسسې کې جوړه شوې وه، دلوړو زده کړو وزیر ډاکتر عباس بصیر، د لوګر والي عبدالقیوم رحیمي، دلوړو زده کړو وزارت مالي او اداري مرستیال نوراحمد درویش، دلوګر دلوړو زده کړو موسسې رییس پوهنمل عبدالناصر ستانکزي، په ولسي جرګه کې دلوګر دخلکو استازي سید محمدصدیق حسن زاده، هما احمدي، دولایتي شورا غړو، د دولتي ادارو مسؤلینو، ځوانانو، زده کړیالانو او د رسنیو استازو برخه اخیستې وه.

غونډې ته د لوګر دلوړو زده کړو موسسې رییس پوهنمل عبدالناصر ستانکزي دښه راغلاست ترڅنګ؛ دلوګر دلوړو زده کړو د موسسې په پرمختګونو، لاسته راوړنو او ستونزو خبرې وکړې، دلوړو زده کړو وزارت رهبري پلاوي ته یې یو لړ وړاندیزونه او غوښتنې هم وړاندې کړې.

ستانکزي وویل، چې یاده څلور پوړیزه ودانۍ د لوړو زده کړو وزارت د پراختیایي بودجې لخوا د ۲۳ میلیون افغانیو پر لګښت په پاخه او اساسي ډول جوړه شوې، چې د تدریسي خونو سربیره اداري خونې، د کنفرانس خونه، څیړنیز لابراتور، تشنابونه او نور ضروري ملحقات لري.

لوګر دلوړو زده کړو موسسې رییس وویل، چې دا مهال دلوګر په لوړو زده کړو موسسې کې د ښوونې او روزنې، کرنې او جیولوجي معدن پوهنځي فعال دي، چې له ۱۱۰۰ زیات نارینه او ښځینه زده کړیالان پکې زده کړې کوي.

لوګر والي عبدالقیوم رحیمي دلوړو زده کړو په موسسې کې د دغه ستري تدریسي ودانۍ په پرانیستې خوښي څرګنده کړه. ویې ویل، چې د پوهنې د پرمختګ په ډګر کې یوه لویه لاسته راوړنه بلل کیږي. رحیمي زیاته کړه، چې دلوګر په ودانولو کې د دولتي مسؤلینو سربیره؛ ټول لوګري ولس مسؤلیت لري، چې دغه ولایت ته لازیاته پاملرنه وکړي.

دلوړو زده کړو وزیر ډاکتر عباس بصیر د غونډې ګډونوالو ته وویل ، چې موږ هڅه کوو، ترڅو دلوګر دلوړو زده کړو موسسه پوهنتون ته ارتقا او پکې نورې پوهنځي جوړې کړو او ښځینه زده کړیالانو لپاره دشپې غالې ودانۍ هم جوړه شي.

همداراز دلوړو زده کړو وزیر داهم څرګنده کړه، چې د سږني کال په لړ کې ۲۵ تنه ممتاز زده کړیالان دلوګر له لوړو زده کړو موسسې نه بهر هېوادونو ته د عالي زده کړو لپاره لېږل شي. دلوړو زده کړو وزیر دخپلو خبرو په پای کې یادونه وکړه، چې اکاډمیکو ودانیو په ساتنه او محافظت کې ټول ولس مسوول دي، چې ساتنه یې وکړي.

په یاده غونډه کې دلوګر دخلکو استازي هما احمدي، سید محمدصدیق حسن زاده او د ولایتي شورا مرستیال حاجي محمد قسیم خوشیوال خبرې وکړې، د لوګر لوړو زده کړو موسسې ته یې دلوړو زده کړو وزارت رهبري او راغلې پلاوي دلاډیرې پاملرنې غوښتونکي شول، چې دیو لړ ستونزو په لرې کیدو او د نوروجوړونو او د لوړو زده کړو موسسې د تدریسي او اداري تشکیلاتو دزیاتوالي د دوی له مهمو خبرو څخه ؤ، چې دلوړو زده کړو وزیر ژمنه وکړه، چې ټولو ستونزو او غوښتنو ته به رسیدنه وشي.

د روژې میاشتې فضیلت او ځانګړتیاوې

د اسلام له مهمو رکنونو څخه یوه هم روژه ده، چې په کال کې یو ځل په هر نارینه او ښځینه مسلمانانو فرض،چې د نیولو شرایط یې پوره کړی وي. لوی خدای (ج) په قرآن کریم کې فرمایي، ژباړه: ((اې هغو کسانو چې تاسې ایمان راوړی دی (اې مومنانو!) فرض کړل شوې په تاسې روژه لکه، چې فرض کړی شوې وه، په هغو کسانو چې پخوا له تاسې څخه وو(لکه پخواني امتونه او پیغمبران تر آدمه پورې .)) روژه هغه مبارکه میاشت ده، چې لوی ښښنتن زیات فضیلتونه او برکتونه ورکړی دی، روژه د تقوی او صفا پسرلی ده او د مومنانو د زړونو د خوشحالی موسم ده.

قران کریم د روژې په اړه مبارک آیتونه له شَهْرُ رَمَضَانَ څخه پیلوي او وایي: د روژې میاشت هغه ده، چې قران کریم په کې نازل شوی، یعنې د قدر په شپه کې یې نازلېدل پیل شوی، د خلکو لپاره د حق او هدایت میاشت ده، په دغه میاشت کې نه یوازې د هدایت دلایل روښانه شوي، بلکې د حق او باطل ترمنځ یې توپیر هم په ښکاره توګه واضیح کړی دی .

روژه د رحمتونو او برکتونو میاشت ده، په دغه میاشت کې له آسمانه برکتونه راوربېږي او مځکه د الله (ج) له رحمتونو ډکه وي، په دغه میاشت کې رسول الله (ص) صحابه کرامو ته زېږی ورکوي هغوی ته فرمایي: تاسو ته د روژې مبارکه میاشت راغله، الله (ج) پر تاسو روژه فرض کړې ، په دغه میاشت کې د آسمانونو دروازې خلاصېږي او د جهنم دروازې په کې بندېږي او سرکشه شیطانان په کې تړل کېږي .

روژه د الله (ج) د رحمت او هغه ته د عبادت د تمرین میاشت بلل کېږي، د کال په اوږدو کې انسان دنیوي بوختیاوو غافل کړی وي، الله (ج) او د هغه رسول په مومنانو غږ کوي، چې په دغه میاشت کې ځان له غفلته ځنډې ته کړئ، بیدار او ځار واوسئ! او د الله بندګي ته تکړه شئ، په حدیث شریف کې راغلي: د روژې په لومړۍ شپه کې ... او اوازکوونکي اواز وکړي : اې د خیر غوښتونکیه! مخ راواړوه، او اې د شر غوښتونکیه! نور بس کړه او الله په هره شپه کې خلک له اوره خلاصوي .

د روژې میاشت په حقیقت کې پرمسلمانانو د الله (جل جلاله) له لوري یو لوی احسان او ستره پیرزوینه ده؛ ځکه دا میاشت د مغفرت او بې حسابه ثوابونو د ترلاسه کولو لپاره یوه حقیقي میاشت ده، په دې میاشت کې چې هر مؤمن روژه ونیسي، د الله عبادت وکړي، له ناوړو کارونو ځان وساتي، د بل حق په ځان پورې ونه تړي (د نورو حق و نه خوري) او د نورو پر حق خېټه وانه چوي، هرو مرو به الله (جل جلاله) مغفرت ورته کوي او ستر اجرونه به یې نصیب کېږي، ځکه روژه له برکتونو ډکه میاشت ده، چې رسول الله (صلی الله علیه وسلم) خپله ستره او د برکتونو څخه پرېمانه میاشت نومولې ده .

په روژه کې الله (جل جلاله)د خپل رحمت او جنتونو دروازې د خپلو بنده ګانو پر مخ پرانیستې دي، په دغه میاشت کې د جهنم دروازې تړل شوي وي او د انسانانو لوی او سر سخته دښمنان (شیطانان) هم په ځنځیرونو کلک تړل شوي وي .

کله چې د روژې اوله شپه شي، شیطانان او سرکښه پېریان په ځنځیرونو وتړل شي، د دوزخ د روازې وتړل شي، چې بیا یوه دروازه نه پرانستل کېږي .

د جنت دروازې خلاصې شي بیا یوه دروازه نه تړل کېږي او یو آواز کوونکی به آواز وکړي، چې اې د خیر غوښتونکیه! راوړاندې شه!(دخیرکارونوته دوام ورکړه) اې د شر غوښتونکیه! له شره لاس واخله (دبدوکارونو څخه منع شه) او الله پاک لره له أور څخه آزا د خلک وي (الله پاک د أوره څخه آزادکړی وي او بخښنه ئې ورته کړې وي .)

دا آواز او له أوره د خلکو آزادول هره شپه وي؛ نو په دې حدیث شریف کې د روژې ځانګړتیاوې او فضایل بیان شوي، چې هغه د جنت د دروازو خلاصول دي د مؤمنانو د ښوکارونو د ډېروالی له امله او ښوکارونو ته د هغوی د تشویق او هڅونې لپاره او پر مومنانو د رحمت کولو له امله د دوزخ د دروازو تړل دي، ځکه په دې میاشت کې هغوئ ګناهونو ته لږ نژدې کېږي، همدا راز د شیطانانو تړل دي، چې په دې میاشت کې هغوکارونو ته خلاص نه شي،چې مخکې ورته خلاص وو.

په روژه کې مسلمانانو ته الله(جل جلاله) ډېر امتیازونه ورکړي، چې تېر ګناهونه یې بخښل کېږی، فرښتې د ده لپاره دعاوې کوی، شیطانان تړل کېږي، په شپه او ورځ کې په لکونو بخښنې ورته کېږي او داسې نور امتیازونه ... د روژې مهم کار دا دی، چې مومن له ځانه غفلت وځنډي، بیدار شي او د زړه له مینې د الله عبادت او بندګي وکړي، باید یوې خبرې ته ډېر متوجې شو، هغه دا چې روژه او د روژې عبادت باید مخلصانه وګرځوو، باید دا عبادت د روح له تله وي، په مینه، اخلاص او زیاته توجه سره وي، زموږ ستونزه او مصیبت دا دی، چې ډېر عبادتونه تش رواجي او عادي وي . روژه، عبادتونه، خیراتونه او نفلونه ټول له روح او نشاط نه خالی وي، ځرنګه چې اکثره عبادتونه همداسې وي، نو ځکه یې اغېزه هم کمه او په نشت حساب وي . بناءً د عبادت کمیت ضروري نه دی کیفیت یې ډېره مهمه موضوع ګڼل کېږی .

بله مهمه خبره په ځانګړې توګه شتمن باید د مسکینانو او غریبانو لوږه او تنده احساس کړي، په روژه کې د شتمنو لپاره همدا مهم درس او عبرت دی چې د غریبو او خوارانو د لوږې او تندې احساس وکړي، نو په روژه کې د غریب او مسکین د ستونزو احساس د شتمن لپاره مهم عبادت دی، خو له بده مرغه ډېرشتمن خلک په روژه کې خپل ځان او اولاد ته متوجه وي، د روژې لپاره په تیاري کې د اصراف او بذر په ګناه ځانونه لوړي، که دوی د اصراف پر ځای اعتدال خپل کړي او له اړتیاوو زیات شي غریبانو ته خیرات کړي د اصراف له ګناه به یې ځان ژغورلی وي او هم به یې د غریبانو د ستونزو د احساس عبادت په ښه شان ادا کړی وي، نو موږ مسلمانانو ته په کار ده، چې روژه په ښه اخلاص او صداقت سره ونیسو او د هغو اعمالو اوکارونو څخه ځانونه وساتو، چې د دې میاشتې ثوابونه له منځه وړي او په ګناهونو کې ډېروالی راولي .

سرچنه :د هیواد ملي ورځپاڼې سایټ

په سوله کې د ځوانانو رول !

د هرې ټولنې په جوړښت او پرمختګ کې د ځوان قشر رول اړین او د پام وړ دی، چې د خلکو د ښه راتلونکې لپاره د هوساینې لوری ټاکي. ځوان قشر د خپلې ځوانې انرژۍ او هر اړخیزې پیاوړتیا له کبله د ټولنې په ثبات، امنیت او د سولې په راوستو کې د پام وړ رول لوبولی شي. د یادونې وړ ده، چې ځوانان د خپلې لیوالتیا او جرئت له مخې هر دروند او له مسئولیته ډک کار ته اوږه ورکولای شي. د هیواد په بیا رغونې، د اقتصاد د پیاوړتیا ، په ټولنه کې د اغیزمنو بدلونونو ، په سیاسي او فرهنګي چارو کې د دقیقو بدلونونو په راوستلو کې ځوان قشر تر بل هر چا ښه ځلیدلی شي.

د نن ټولنه د سبا لپاره هڅې کوي او سبا د ځوانانو په لاس کې ده، نو په همدې اساس د افغانستان راتلونکې ددې هیواد د ځوانانو لپاره دې او ځوانان ددې هیواد د حکومت لپاره یو ډیر مهم قوت دي. د ځوانانو یو ځای کول او په سیاسي، فرهنګي، ټولنیزو او اقتصادي چارو کې همغږي کول د هر هیواد د پرمختګ او اقتصادي پیاوړتیا لپاره ډیر اړین دي.

اریستوتلو (Aristotle) د سولې په نامه په خپل کتاب کې (the book of peace, page113) وایي «ځوانانو !، تاسو د بشپړ قوي او لوی زړه څښتنان یاست، که د اصلیت لپاره کوم څه لرئ نو اجرأت وکړئ.» له بده مرغه زموږ په هیواد کې د څلورو لسیزو راهیسې یو شمیر سیاسي حزبونو او ګروپونو د افغانستان ځوانان په جګړو کې د یو بل پر وړاندې د وسیلې په توګه کارولي دي.

د څلورو لسیزو راپه دې خوا د یو شمیر لوستو او په خبره پوه ځوانانو هیلې ددوی د ځیرکتیا له مخې له منځه تللې دي، چې ددغه مړاو هیلو د بیا ژوندي کولو لپاره یې د هیواد په یو شمیر سیمو کې د خپلو تجربو له مخې هڅه پیل کړې ده، چې د جنګ او افراطیت پر ضد د پراخو کمپاینونو له لارې خلک وینې او د سولې د ټینګښت لپاره یې په ټولنه کې د ثبات او د وروګلوي تر شعار لاندې خپل غږ د نړۍ هر ګوټ ته رسولې دی.

د هلمند څخه کابل ته د سولې د کاروان تر نامه لاندې یو شمیر ځوانانو پرپښو د خپل احساس له مخې تګ پیل کړ. په څه باندې ۴۰ ورځو کې د هلمند څخه کابل ته په بیله پښو د ګرم لمر لاندې ورسیدل، ددوی شعار د ورورګلوی، یوالي او د جنګ ختمولو ؤ او دوی د سیمې پر هیوادونو غږ وکړ ، چې د افغانستان د سولې ملاتړ وکړي. د یو شمیر سفارتو مخې ته یې په ورځو ورځو خیمې ووهلې او د سولې لپاره یې ددوی ملاتړ وغوښت، د پاکستان سفارت ته یې په وینو لیکلی لیک وړاندې کړ، چې د افغانستان د سولې په ټینګولو کې یو مخې سیاست وکړي.

همداسې نور خوځښتونه هم په یو شمیر نورو ولایتونو او سیمو کې د ځوانانو لخوا پیل شول. د هیواد هر ځوان د ښه ژوند په هیله دی او د ښې راتلونکې لپاره کارکوي.

که چیرې د ځوانانو د قوت او انرژۍ څخه اغیزمنه استفاده ونه شي، دا یو څرګند حقیقت دی، چې په افغانستان کې د ځوانانو د قوت، توانایي، فکر او مهارت څخه موثره استفاده نه دی شوې. ډیر ځوانان د بې کارۍ، غربت، مایوسۍ او د ناهیلۍ له وجې په مختلفو جرایمو بوخت دي، لکه انساني قاچاق، د مخالفو ډلو سره یوځای کیدل او په مخدره توکو روږدي کېدل چې د ډیرو ځوانانو ژوند یې له ګواښو نو سره مخ کړې دي.

ځوانان د سولې او امنیت په ټینګولو کې ډیر اغیزمن رول لوبولای شي او ددوی قوت او انرژي په موثره توګه استعمال شي د هیواد په امنیت او سوله کې به رغنده تغیرات راشي.

ځوانان باید د سولې تمثیلګران وي، ځوانان باید په ټولنیزو ، فرهنګي، سیاسي او د اقتصادي پیاوړتیا په برخو کې تشویق شي.

لیکنه : خالد «نېکزاد»

د تخنیکي او مسلکي زده کړو آمریت لخوا د عامه پوهاوي ...

والي د لوګر په پرمختګ او آبادی کې د ولسونو رول مهم وباله او له دوی یې وغوښتل چې له ولایتي اداري سره په ګډه کار وکړي . ښاغلي رحیمي زیاته کړه؛ د خراور بند منظور شو او هڅه کوو، چې د دغه ولایت د اوبو د مدیریت په برخه کې مهم پلانونه پلي کړو. ده د ازرې ولسوالی په مربوطاتو کې له بندر جوړولو هم یادونه وکړه، چې له جوړېدو سره به یې نه یوازې لوګر بلکې هېواد هم د پرمختګ پر لور ولاړ شي. وړاندې د تخنیکي او مسلکي زده کړو په غښتلتیا او پرمختګ د اړوندو ادارو مسولینو ته لازمې سپارښتې او هدایتونه ترسره شول.

دلوګرولایت مطبوعاتي دفتر

دلوګر داطلاعاتواوفرهنګ ریاست د ۱۳۹۹ کال په لړ کې تر سره شوې چارې...

ترڅو د دوی د ستونزو په حل کې کوټلې ګامونه پورته کړي، ډیر امکانات په اختیار کې ورکړي او د تاریخي او لرغونو سیمو ساتنه او د ترمیم لړۍ دوامداره او لا پیاوړې کړي.

د یادونې وړ دی، چې د لوګر اطلاعاتو او فرهنګ ریاست د مس عینک لرغونې سیمې په اړوند جوړ شوی مستند ویډیویي راپور هم وړاندې کړ او د همدې تاریخي او لرغونې سیمې ارزښت یې په کې بیان کړی ؤ.

کور او کورنۍ ...

د څلورم مخ پاتې برخه

نن ورځ ډېری ښځینه خپل وخت په بازارونو کې تېروي؛ نن ځې تر څو د ځان لپاره یو څه واخلي؛ سبا د خپلې ګاونډې لپاره ځي؛ بله ورځ د خپلې ملګرې لپاره ځي او خرید کوي. دا چې له چا سره تګ راتګ کوي، په بازار کې کوم وړ سترګی موټر چلوونکی ورته په تمه دی، چنه وهل یې وګوره او خندا ګانې یې وګوره.

هغه نجونې چې ښوونځي ته ځي آیا له سمې پوهې سره ببرته راګرځي؟ آیا له خدای (ج) څخه وېره لري؟ آیا ایمان یې ورځ تر بلې زیاتېږي؟ ښوونځي ته په تګ سره په ښوونځي کې له کومو کسانو سره اړیکې لري؟ آیا دوستان یې نېک انسانان دي او که لېوه صفته؟ له څه ډول کسانو سره ټیلفوني اړیکې لري؟ یو ښوونکی وایي: د کم عمره نجونو داسې لیکونه مې ترلاسه کړي دي، چې په لوستلو یې زما تندی خولې شو، دې نجونو په دې کم عمر کې داسې ځیزونه لیکلي دي، چې لوستل یې تندی خولې کوي. دوستان په دې باندې باید هېڅ شک ونه کړئ، چې نن سبا موبایل په یوه وېرونکې بلا بدل شوی دی، په ځانګړې توګه هغه موبایلونه، چې له انټرنېټ سره وصل دي؛ وخت ضایع کوي، د دوستان د لیدلو مخه مو نیسي، هغه څه چې په کورنۍ کې مو پېښېږي، له هغه څخه مو ناخبره کوي، له دې هرڅه ډېر په ټولنه کې جرم نه رامنځته کېږي، مګر موبایل یې وسیله ده.

درنو دوستانو! که چېرې موږ یوه سالمه او تقوا داره کورنۍ ولرو، نو سالمه ټولنه به هم ولرو.